# د اسلامي شريعت د موخو پېژندلو لارې چارې

پوهنيار خالد افغان، فقه او قانون څانګه، شرعياتو پوهنځی، سيدجمال الدين افغاني پوهنتون

**لنډيز**

د اسلامي شريعت موخې، چې د انسانانو له پاره د مصلحتونو د جلبولو او د مفاسدو د له منځه وړلو څخه عبارت دي او په دې څېړنيزه مقاله کې يې د پېژندلو لارې چارې روښـانه شـوې دي. په اوسـني وخت کې دا موضـوع خورا مهمه او اړينه ده؛ ځکه چې نړۍ ورځ تر بلې پر مختګ کوي او د خلکو مصـــالح او غوښـــتنې نوې کيږي، دا يوه تو صيفي تحليلي څېړنه ده چې پکې د ا سلامي شريعت د موخو د پېژندنې لارې چارې روښانه شوې دي چې په ټوله کې عبارت دي له استقراء، د امر او نهي لاملونو پېژندنه، مجرد امر او نهي، د هغه الفاظو پېژندنه چې پربنسټ يې د شارع قصد پېژندل کيږي، د صحابه وو فهم، تبعي موخو له پاره په ا صلي موخو ا ستدلال، د نزول لاملونو پېژندنه، د عربي ژبې زده کړه او هغه څه چې دشريعت په عامه قاعدو تاکيد کوي.

**کليدي کليمې :** شريعت، موخې، استقراء، امر، نهی، د نزول لاملونه، د صحابه وو پوهه

**سريزه**

الحمد لله الذي قال في كتـابه العظيم{يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا}والصلاة والسلام على نبينـا محمد وعـلى آلـه وصحبـه وسلّم تسيلما كثيراً الى يوم الدّين ، امّـابـعـد:

دا چې اسلامي يو کامل او شامل دين دی، همدا لامل دی چې پکې يو شمېر حکمتونه، موخې او داسې فايدې او مصلحتونه ايښودل شوي دي چې پر بنسټ يې د خلکو احوال

tahsil.journal@lu.edu.af
+9378031998/+93786262862

په هرځای او وخت کې سم کېدای شي، دا چې شارع په شرعي حکمونو کې خپلې موخې لري اړينه ده، چې هغه لارې او طريقې يې ښکاره شي د کومو پربنسټ چې مونږ دغه موخو ته رسيږو، له همدې امله په دې بحث کې د هغو طريقو يادونه کيږي د کومو پر بنسټ چې شرعي حکمونو کې د شارع موخې پېژندل کېدای شي.

د موضوع پېژندنه: په دغه څېړنه کې مې د اسلامي شريعت د موخو پېژندلو لارې چارې روښانه کړې دي، ترڅو لوستونکي د اسلامي شريعت له موخو څخه خبر شي.

## د څېړنې ارزښت

په دې کې شک نشته، چې د هرې کړنې له انجامولو څخه د مخه د هغې د موخې او هدف څخه ځان خبرول خورا اړين او د عقل غوښتنه ده، د اسلامي شريعت له موخو څخه د خبرېدو لپاره اړينه ده چې د هغو لارو چارو څخه ځان خبر کړو چې پر بنسټ يې د اسلامي شريعت موخې پېژندل کېدای شي، له همدې امله ياده موضوع خورا ارزښت لرونکې ده.

## د څېړنې پوښتنې

ايا د اسلامي شريعت د موخو پېژندلو لپاره لارې چارې شتون لري؟
څنګه کولی شو د اسلامي شريعت موخې وپېژنو؟
اسلامي شريعت موخې څه ډول ترلاسه کولی شو؟

## د څېړنې ستونزه

د څېړنې ستونزه د اسلامي شريعت موخو ته د رسېدلو لارو چارو څخه ناخبري ده، چې د ټولنې زيات وګړي ترې ناخبره دي او په اړه يې معلومات نه لري، د همدې ستونزې د حل په موخه د علمي کوښښ په توګه دا څېړنه ترسره کيږي.

د څېړنې موخې: لوستونکي به په دې وتوانيږي چې:

۱. د اسلامي شريعت موخو ته د رسېدلو لارې چارې وپېژني.
۲. د اسلامي شريعت موخې وپېژني.
۳. د اسلامي شريعت موخې ترلاسه کړي

**د څېړنې تګلاره**

د دې مقالې د ليکلو په لړ کې مې د هرې مسئلې په اړه لومړی له قرآن کريم څخه دليل راوړی او د ايت پښتو ژباړه مې د کشاف تفسير څخه کړې ده، په دويم قدم کې مې نبوي احاديثو ته مراجعه کړې او د حديث د ذکرکولو او په هغې باندې د جرح او تعديل علماوو مختصر حکم څخه وروسته مې د حديث ژباړه هم کړې، له قرآن کريم او نبوي سنتو څخه وروسته مې د اسلامي شريعت معتمدو او معتبرو متونو ته مراجعه کړې او د مسئلې اړوند مې د هغوی اندونه راوړي او د اړتيا پرمهال مې غوره قول هم په نښه کړی، د ليکنې په کړنلاره کې مې له توصيفي تحليلي ميتود څخه کار اخېستې دی چې مواد يې له بېلا بېلو سرچينو څخه راټول او د پښتو ليکدود د اصولو په پام کې نيولو سره ترتيب شوي دي.

**د شرعي موخو پېژندنه**

مقاصـــد د مقصـــد جمع ده او په لغت کې هغه ځای ته ويل کيږي چې انســـان ورته د ورتګ قصد او اراده لري(ابراهيم أنيس،۱۴۲۱هـ ج۲ ص ۷۳۸).

د اصول پوهانو په اصطلاح کې موخې له هغه غاياتو څخه عبارت دي چې شارع په هر حکم کې ايښې وي(الفاسي،۱۹۷۹م،۳).

هغه لارې چارې چې د شريعت موخې وربانديې پېژندل کېدلای شي:

**لومړی طریقه، إستقراء**

الف: د استقراء پېژندنه: استقراء په لغت کې تتبع ( ژورې کتنې) ته وایي(الفیومي،(ب ت)، ج ۲ ص۵۲).

د اصول فقهې په اصطلاح کې: دیوکُلّي حکم او قاعدی د موندلو له پاره د جزئیاتو تتبع او د هغی اړولو راړولو ته وایي(الفیومي،(ب ت)،ج۲ ص۵۲).

دبېلګې په توګه: داسې فرض کوو چې موږ سره هیڅ کوم داسې نص نشته چې د حرج په رفعه کولو کې صراحت وکړي؛ خو د نصوصو د استقراء نه موږ دا ثابتولای شو چې په شریعت کې حرج نشته؛ ځکه که موږ د تیمم احکامو، همدارنګه په سفر کې د لمانځه د قصر، د مریض د لمانځه د اداء کولو، د حائضې او نفاسې د لمانځه د حکمونو جزئیاتو او له دې پرته نورو ډیرو جزئیاتو او فروعو ته نظر وکړو په دې نصوصو کې به داسې کوم ځانګړی نص پیدا نه شي چې په صراحت سره په شریعت کې حرج نفې کړي؛ خو د دې جزئیاتو د نصوصو د استقراء نه به راته دا کلي قاعده معلومه شي چې په شریعت کې حرج نشته او د دې استقراء دا حکم به قطعي وي(المحلی،۱۴۰۳هـ ج۲ص۳۴۵).

**ب : داستقراء ډولونه:**

استقراء په دوه ډوله ده: تامه استقرا او ناقصه استقرا.

۱. تامه استقراء: په کومو جزیاتو کې چې اختلاف وي له هغې پرته د نورو ټولو جزئیاتو لټون او تتبع ته تامه استقراء ویل کیږي، دا ډول استقراء د اکثره عالمانو په اند قطعي دلیل ده.

۲ . ناقصه استقراء: په یوه مسأله کې د ځینو جزئیاتو تتبع ته ناقصه استقراء ویل کیږي او دا ظني دلیل دی(المحلی،۱۴۰۳هـ ج۲ص۳۴۶)،

له استقراء څخه موخه هغه لار ده چې په هغې سره د شرعي احکامو څخه د شريعت مقاصد پيژندل کېدلای شي، که چېرته موږ د شريعت او د هغه د احکامو او علتونو پلټنه وکړو؛ نو په ډېره اسانۍ سره به په شرعي موخو پوه شو.

**دويمه طريقه : د امر او نهې د لاملونو پېژندنه:**

دلته د هغو طريقو يادونه کوم چې د هغې پربنسټ علتونه پېژندل کيږي، د اصول پوهانو په اصطلاح کې دې ته مسالک العلة ويل کيږي، چې په لاندې توګه پېژندل کيږي:

**الف : اجماع** يعنی: د حکم د علت په اړه د اصــول پوهانو اجماع وي او دغه اجماع په دوه ډوله ده:

**۱.** په دې اجماع چې دا حکم معلول دی لکه څنګه چې د اصـــول پوهانو اجماع ده د سود په حراموالی کې چې حراموالې يې په علت سره معلول دی، که څه هم د يو شمېر فقهاو له آنده دغه علت قدر او جنس او د نورو له آنده قوت او ادخار دی، مګر د علتوالي په اړه يې اجماع ده، چې دا حکم په علت سره معلول دی.

۲ . په دې اجماع چې دا معين وصف د دې حکم له پاره علت دی.

**ب : نـص** د علت په مسالکو کې د نص نه مقصود هغه دی، چې دلالت يې په علتوالي ښکاره وي، برابره ده که دا قطعي وي او که محتمل، بيا دغه علتوالې د شارع په نص باندې په مختلفو الفاظو سره پېژندل کيږي، چې ځينې يې په لاندې توګه دي:

**لومړی لفظ :** د حکمت په لفظ سره صراحت، لکه په دې وينا د الله تعالی کې :{حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ}(القمر،۵ اية).

ژباړه: او داسې حکمت چې د نصیحت هدف په بشپړه درجه تر سره کوي ؛ خو پر دوی باندې تنبیهات اغېزه نه کوي .

**دویم لفظ:** د هغه الفاظو ذکر چې صراحتا په علتوالي دلالت کوي، لکه (من أجل) یا( لأجل) لکه په دې وینا د الله تعالی کې: {مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا }(المائده، ۳۲ ایة).

ژباړه: له همدې امله موږ پر بني اسرائیلو دا فرمان لیکلی و، چې ″ چاچې یو انسان دوینې له بدلې یا په ځمکه کې له فساد خورولو پرته (په ناحقه) وواژه داسې وګڼه لکه چې هغه ټول انسانان ووژل.

**درېیم: د ″اذن″لفظ:** لکه څنګه چې په حدیث کې نبي کریم علیه الصلاة والسلام أبي بن کعب رضي الله عنه ته وروسته له هغې وفرمایل، چې ده ورته وویل: ((أرأیت إن جعلت صلاتي کلها علیک؟ قال: ″إذن یکفیک الله ما أهمک من دنیاک و اخرتک)) (ابن حنبل،( ب ت)، ج ۵ ص ۱۳۶)،

ژباړه: ماته خبر راکړه که زه درود ټول تاته ځانګړی کړم، نبي کریم علیه الصلاة والسلام ورته وفرمایل: همدغه مهال به درته الله عزوجل د دنیوي او اخروي غمونه لپاره کافي شي، شیخ ارنووط په مسند أحمد باندې په خپل تعلیق کې د یاد حدیث درجې په اړه وایي:( حدیث حسن)

له دې څخه پرته یو شمېر نور الفاظ هم شته دی، چې اصولینو د تعلیل د الفاظو څخه شمېرلې دي.

**ج: ایماء**

**د ایماء پېژندنه:** ایماء په لغت کې اشارې ته وایي(عطار،۱۴۰۲هـ ،ج ۱ ص ۸۲).

د اصول پوهانو په اصطلاح کې: په يو حکم پورې له وصف پېوسته کولو څخه عبارت ده، که دغه وصف او د ده نظير نه وي؛ نو دا ډول کلام به غير فصيح او بې ګټې وي سره له دې چې د شارع کلام بې ګټې نه وي.(ابن الحاجب،۱۴۰۳هـ ج ۲ ص ۲۳۴).

**د ايمـاء ډولونـه:**

د ايماء له پاره يو شمېر ډولونه شتون لري، چې وضاحت يې په لاندې توګه دی:

**لومړی ډول**: دحکم يـادونه له وصف سره يا د وصف يادونه له حکم سره په فاء سره شوې وي او دا به يا د شارع په کلام کې وي او يا به د راوي په کلام کې، لکه په دې وينا دالله تعالی کې: {وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ}(المائده، ۳۸).

ژباړه: او غل که نر وي که ښځه، د دواړو لاسونه پرېکړئ، دا د هغو د خپلې کړنې بدله ده او د الله جل جلاله له لوري د عبرت وړ سزا ده. د الله جل جلاله قدرت پر ټولو غالب دی او هغه د پوهې او حکمت څښتن دی.

دلته «فاء» په يوشرعي حکم داخله شوې ده، چې هغه د لاس پرېکول دي.

**دويم ډول:** چې شارع ته يوه واقعه وړاندې شي او بيا په دې موضوع کې د شارع لخوا په يوحکم سره فيصله وشي؛ نو دا په دې دلالت کوي، چې دا څه وشو دا علت دی د همدې حکم لپاره، لکه د هغه بانډه چې واقعه چې نبي کريم عليه الصلاة والسلام ته راغلی و او ورته يې وويل: په رمضان کې د ورځې راڅخه جماع وشوه، نبي کريم عليه الصلاة والسلام ورته وفرمايل:((أعتق رقبة)) يعنی غلام آزاد کړه(البخاري،۱۴۲۲هـ ج۹ ص۳۵۵)، له همدې امله ويلای شو ياده واقعه(په رمضان کې جماع کول) د ذکرشوي حکم لپاره چې د غلام آزادول دي علت دی.

**درېیم ډول**: شارع د حکم سره یو وصف ذکر کړي، که چېرته دغه وصف د تعلیل له پاره ونه ګرځول شي د ده ذکر کول به بیا بې ګټې وي او شارع د داسې کارنه پاک دی.(الأمدي، ۱۴۰۲هـج۳ص۲۵۷). لکه په دې وینا د نبي کریم علیه الصلاة والسلام کې کله چې له هغې څخه دلمدو کجورو په وچو باندې د پلورلو پوښتنه وشوه:(( أینقص الرطب إذا یبس؟ ″ قالوا: نعم، فنهاه عن ذلک)) (ابوداود،( ۱۴۳۰ هـ – ۲۰۰۹ م)، ج ۵ ص ۲۴۶). ژباړه: کله چې لمدې کجورې وچې شي کمېږي؟ هغوی وویل: هو″ نو له دې کار څخه یې منع کړل. شیخ ارنووط په سنن أبی داود باندې په خپل تعلیق کې د یاد حدیث د درجې په اړه وایې: (اسناده قوي). یعني: سند یې قوي دی.

**څلورم ډول:** د دوو مسلو ترمنځ فرق په داسې ډول راشي چې د یوې مسلې حکم او وصف ذکر شي بیا د بلې مسألې حکم او وصف چې د علتوالی له پاره مناسب وي هم راشي، لکه نبي کریم علیه الصلاة والسلام په حدیث کې فرمایي: ((لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ، وَلِلرَّاجِلِ سَهْم)) (البخاري،۱۴۲۲هـ ج ۶ ص۶۷). دلته د دواړو حکمونو(چې د اس والا له پاره دوې برخې دي او پیاده کس له پاره یوه برخه ده) په منځ کی جداوالی د دوو صفتونوله امله راغلی دی چې یو صفت یې اسوالی او بل یې پیاده توب دی او دواړه وصفونه(اس والی او پیاده توب) د علتوالی له پاره مناسب دي.

**پینځم ډول :** د جزاء په صیغې سره حکم وصف پسې ذکرکول چې په علتوالي دلالت کوي(الامدي، ۱۴۰۲،۳ج۳ ص ۲۶۰) لکه د الله تعالی په دې وینا کې: {وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا}(الطلاق ، ۲ ایة) ژباړه: څوک چې له الله جل جلاله نه په وېره کار وکړي الله به د هغه لپاره له ستونزو نه د وتلو کومه لاره پیداکړي.

دایماء ډېر ډولونه دي، مګرپه دې بحث کې موږ په همدی بسنه کوو، چې حصریې ستونزمن دی.

**د. مناسبت**

**د مناسبت پېژندنه:** مناسبت په لغت کې ملائمت ته ویل کیږي(ابن منظور،۱۴۱۴،ج ۱ص ۷۵۶).

د اصول پوهانو په اصطلاح کې: مناسبت د وصف او حکم ترمنځ هغه اړیکې ته ویل کیږي چې د شریعت په حکم کې هغه مصلحت کوم، چې د شریعت موخه وي ترلاسه شي، دا مصلحت د منفعت لاسته راوړلو او له زیان مخه نیوې څخه عبارت دی(ابن الحاجب ،۱۴۰۳، ج ۲ ص ۲۳۹)، لکه نشه، دا وصف د شرابو د حراموالي له پاره مناسب وصف دی، مایعوالی، رنګ، بوي او خوند یې مناسب وصف نه دی.

**له حکم سره د وصف مناسبت په درې ډوله دی**

**لومړی ډول معتبر وصف:** هغه وصف دی، چې شریعت ورته په بل فرعي حکم کې بې له دې، چې په ښکاره سره یې ووایي، یا ورته اشاره وکړي اعتبار ورکړي، دا ډول وصف د ټولو اصولینو په اند د حکم علت ګڼل کیږي، لکه په میراث کې په ناسکه ورور باندې د سکه ورور مخکې کول؛ ځکه په سکه ورور کې د مخکېوالي یو وصف چې علت بلل کیږي موجود دی او هغه د مور او پلار دواړو له لوري خپلوي ده، شریعت دا وصف له دې پرته چې په څرګنده یې ووایي یا ورته اشاره وکړي علت ګرځولی دی. اوس په دې حکم باندې د دې علت د موجودیت پربنسټ نورې مسلې هم قیاس کولای شو، لکه: په ناسکه ورور باندې د نکاح په ولایت کې او د جنازې په لمانځه کې د سکه ورور وړاندېوالی.

**دویم ډول، ملغی وصف:** هغه وصف دی، چې مجتهد ته پکې مصلحت ښکاري؛ خو د شریعت فرعي حکمونه په دې دلالت کوي، چې دا وصف لغوه دی، دا ډول علت وصف ګرځول د ټولو اصولینو په آند سم نه دی، لکه یوسړی ووایي: چې هلک او جلۍ دواړه

د يو پلار اولاد دي او دا اولادوالی چې وصف دی، د حکم علت وګرځوي او په ميراث کې هلك او جلۍ دواړو له پاره برابره برخه وګرځوي؛ خو دا وصف شريعت لغوه کړی دی او فرمايي: {لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ}(النساء، ۱۱ ايت).

ژباړه: د نارينه برخه د دوو ښځو په اندازه ده.

**درېيم، مرسل وصف:** دا هغه مناسب وصف دی چې په شريعت کې د هغه د اعتبار يا الغاء کوم شواهد او مدارك نه ليدل کيږي او دې ته استصلاح يا مرسله مصلحتونه ويل کيږي، د دې وصف د حکم د لامل په توګه منلو کې د عالمانو اختلاف دی، چې په لاندې ډول يې يادونه کيږي:

**۱ – احناف او شوافع وايي:** دا ډول وصف د حکم له پاره علت جوړول سم نه دي ؛ ځکه په شريعت کې موږ داسې دليل نه وينو چې دا وصف د حکم علت دی، شايد بل وصف د حکم علت وي(سيواسي،۱۴۰۳هـ،ج۴ ص۱۷۱؛ الامدي، ۱۴۰۲هـ ج ۴ ص۱۶۰ ).

**۲– مالکيان او حنبليان وايي:** په دې ډول وصف باندې حکم بناء کول او دا وصف د حکم له پاره علت جوړول صحيح دي؛ ځکه په شريعت کې د هغه د الغاء ثبوت نشته او د حکم سره يې مناسبت موږ ته د علتوالی ګومان راپيداکوي چې موږ ته همدا ظن او ګومان بسنه کوي او هرکله چې ظن موجود شي؛ نو په هغه بايد عمل وشي(شاطبي، ۱۴۰۲ ، ج ۲ ص ۱۱۵).

**هـ . شبه:**

شبه په لغت کې مثل ته ويل کيږي او جمع يې اشباه راځي، عربان وايي: أشبه الشئ، کله چې يو شی د بل سره مشابه او مماثل شي(عطار ، هـ۱۴۰۲، ج ۶ص ۲۲۳۶).

د اصول فقهې په اصطلاح کې د دوو اصلونو ترمنځ له فرع تردد څخه عبارت دی، په داسې توګه، چې یو په دې دوو اصلونو کې د فرع سره مشابهت زيات وي(االامدي،۱۴۰۲،ج۳ ص۲۹۴). له دې امله په دوو اصلونو کې چې د فرع الحاق له یو سره ډېر مشابهت ولري، دې ته شبه قیاس ویل کیږي. د بېلګې په توګه، غلام؛ ځکه دا متردد دی د انسان او مال ترمنځ، له دې امله چې انسان دی، ثواب هم ورکول کیږي او جزاء هم، نکاح هم کولای شي او طلاق هم ورکولای شي او د عباداتو په ډولونو مکلف هم دی، همدا راز پوهه او عقل هم لري چې دا مشابه شو له انسان سره؛ خوکه د بل اړخه ورته وګورو، چې دا د څه مالك کېدلای نه شي او د ده پېر او پلورل، ګاڼه کول، هبه کول، په اجاره ورکول او په میراث سره وړل یې جایز دي؛ نو په دې صورت کې له مال سره مشابه شو.

**و . سبر او تقسیم:**

سبر په لغت کې تجربې ته ویل کیږي او دا مصدر دی. تقسیم، تفریق او جداوالي ته ویل کیږي(عطار ، هـ۱۴۰۲، ج ۵ ص ۲۰۱۱).

د اصول فقهې په اصطلاح کې سبر او تقسیم د هغوصفتونو له راجمع کېدلو څخه عبارت دي چې په اصل کې د علتوالي تصور یې په سرسري نظر کې کېدلای شي، بیا د هغه صفتونه باطلول، چې د علتوالی له پاره سم نه وي؛ نو باقي اوصاف به د علتوالې له پاره پاتې شي(بناني،(ب ت)، ج ۲ص۲۸۸).

په تعریف کې تقسیم په دې توګه راځي چې مجتهد د ټولو هغه صفتونو څخه چې په هغې اصل مشتمل دی هغه صفتونه راجمع کړي چې د علتوالي له پاره درست وي او سبر په تعریف کې: د هغه صفتونو امتحان دی چې مجتهد راجمع کړي وي او په هغې کې بیا نظر کول چې دا د علتوالي له پاره درست دی او که نه؟ له دې وروسته هغه صفتونه

چې دا یې د علتوالي له پاره صالح نه بولي په داسې یو دلیل لغوه کړي چې د دې علتوالي په صلاحیت دلالت کوي، د بېلګې په توګه، که وویل شي چې په نکاح کې د اجبار ولایت په علت سره معلول نه دی، یا په علت سره معلول دی، مګر هغه مهال چې په علت سره معلول وي دا علت به یا بکارت او یا صغر وي یابه له دې پرته بل څه وي، اوس کې ذکر شوو علتونو ته ځیر شو؛ نو جوته به شي چې پرته د دویم ډول نه، چې د بکارت علتوالی دی نور ټول ډولونه باطل دي؛ ځکه لومړی ډول کوم چې په علت سره معلول والی نه دی، او څلورم ډول چې له بکارت او صغر څخه پرته په علت سره معلول والی دی، دا دواړه په اجماع سره باطل دي، درېیم ډول یې له دې امله باطل دی، که علت یې صغر وګرځوو، بیا به هغه ښځه چې کونډه او کوچنۍ وي په هغې به د ولایت اجبار راشي او حال دا چې نبي کریم علیه الصلاة والسلام د کونډې په اړه فرمایي:((کونډه ښځه د خپل ځان په اړه د بل هر چا نه ډېره حقداره ده د نکاح په باب کې)) (قشيري، (ب ت) ، حدیث شمېره ۶۶).

له همدې امله له بکارت پرته بل څه د علت والي له پاره پاتې نه شو.

**ز: دوران**

دوران په لغت کې د دار الشئ یدور دوراً او دورانًا څخه اخېستل شوی دی چې د ګرځېدو په معناسره راځي(ابن منظور، ۱۴۱۴هـ ج۴ص۲۹۵).

د اصول فقهې په اصطلاح کې د وصف په موجودېدو سره د حکم د موجودېدلو او د وصف له منځه تللوسره د حکم له منځه تللو څخه عبارت دی(زرکشي،۱۴۱۳هـ ج۵ص۲۴۷). د بېلګې په توګه: په عصیرو کې نشه؛ ځکه عصیر چې نشه پکې نه وي حلال دي؛ خو کله چې نشه پکې راغله حرام شول او هغه مهال چې نشه ورڅخه لېرې شي اوپه سرکه بدله شي حلال ګرځي، دلته حراموالی د نشې سره وګرځېد،

که نشه پکې وه حرام او که نه وه حلال ګرځي، له همدې امله دوران له هغه طريقو څخه دی چې په دې سره علت پېژندل کيږي.

## ح: تنقيح المناط

تنقيح په لغت کې، تهذيب او برابروالي ته وايي(ابن منظور، ۱۴۱۴هـ ، ج ۲ص ۶۲۴) او مناط د ناط الشئ نوطاً نه اخېستل شوی دی، هغه څه ته ويل کيږي چې تړاو ورسره ولري(ابن منظور، ۱۴۱۴هـج ۷ ص ۴۱۸).

د اصول پوهانو په اصطلاح کې تنقيح المناط: دې ته ويل کيږي، چې د حکم په محل کې ډېر صفتونه شتون ولري او ځېنې له دغو صفتونو څخه د اجتهاد پر بنسټ له معتبروالی څخه حذف شي او حکم په پاتی صفتونو پورې وتړل شي. خلاصه دا چې تنقيح المناط اجتهاد دی په ډېرو صفتونو کې د يو شمېر صفتونو په حذف او د نورو په تعيين سره (محلی،۱۴۰۳، ج۲ص ۲۳۷). د بېلګې په توګه: د هغه بانډه چي کيسه کوم چې له خپلې ښځې سره قصدًا په روژه کې جماع کړې وه او نبي کريم عليه الصلاة والسلام ورته د غلام يا وينځې په ازادولو امر وکړ؛ نو احنافو او مالکيانو خصوص د واقعې حذف کړی دی او حکم يې په مطلق ډول د روژې ماتولو پورې تړلې دی، له همدې امله يې افطار د کفارې د وجوب له پاره علت ګرځولی دی. دا د اول ډول له پاره مثال دی، چې تعريف کې ورته اشاره شوې ده.

همدا راز د دويم ډول له پاره مثال دی نسبتًا شافعيانو او حنبليانو ته؛ ځکه حکم په ډېرو صفتونو مشتمل دی، چې هغه: الف: واقع کېدل ، ب: د واطي بانډه چي توب، ج: موطوءه خپله ښځه، د: وطئ په قبل کې، او بيا يې په ښځه له واقع کېدو څخه پرته ټول صفتونه لغوه کړي دي او حکم يې په همدی پوری تړلی دی، له همدې امله په دې کې حذف

د هغه صفتونو راځي، چې وصف پورې تړلي وي او علتوالي له پاره د شارع د نه پاملرنې له امله سم نه وي.

**درېیمه طریقه: ابتدایي صریح امر او نهې:**

هر امر ابتداءً په دې دلالت کوي، چې د دې فعل اداء کول شریعت ته مقصود دی او له ابتدایي نهې څخه معلومېږي، چې له دې فعل څخه ځان ساتل شارع ته مقصود دي؛ خو امام شاطبي رحمه الله بیا د دې له پاره دوه قیده ښودلي دي:

۱-: امر او نهې دواړه ابتدایي وي او د بل شي له پاره وسیله او یا تابع نه وي، لکه د جُمعې له اذان وروسته پېرودل او پلورل، دا ابتدایې امر نه دی، بلکې د جمعې لمانځه له پاره ټینګار ل راغلی دی، چې له دې پرته دا واجب نه ترسره کېږي.

۲ -: امر او نهې د فعل په کولو او یانه کولو دلالت کې څرګند وي؛ خو هر هغه څه چې امر او نهې یې په ضمن کې لري دا ډول امر او نهې په دې کې شامل نه دي، لکه چې وایي: (الأمربالشئ نهي عن ضدّه) په یوشي امر کول د هغې د ضد څخه منع ګڼل کېږي، دلته د امر د ضد څخه، چې نهې ده صراحتا نهې نه ده شوې، بلکې دا د امر په ضمن کې موجود ده( محلی، ۱۴۰۳، ج ۲ص ۳۹۴).

**څلورمه طریقه: هغه تعبیرات چې د شریعت مقصد معلوموي:**

په لاندې دوه سرلیکونو کې د هغو تعبیرونو یادونه کوم له کومو څخه چې په عمومي ډول د موخو پېژندنه معلومېږي:

**لومړی په شرعي ارادې او دې ته ورته نورو الفاظوسره تعبیر**: دا ډېره ګټوره طریقه ده، چې د شریعت موخې وربانديې معلومېږي؛ ځکه هر هغه څه چې الله تعالی یې شرعا وغواړي همدا یې مقصود وي دا له دې امله چې د ارادې او قصد ترمنځ په معنا کې

ترادف(يو شـــانته والی) دی او اراده دلته په شـــرعي پورې مقيده ده؛ ځکه اراده په دوه ډوله ده، يو ډول يې هغه ده چې الله عزوجل د يو شي کېدل وغواړي او ورته خوښ هم وي او دويم ډول يې هغه ده چې کول يې غواړي، مګر خوښ ور ته نه وي، د دواړو وضاحت په لاندې توګه کوم:

۱. قدريه کَوْنيةً خلقيّه اراده: دا هغه اراده ده چې ټولو موجوداتو ته شـــامله ده، په دې کې د الله عزوجل رضا ضرور نه ده.

۲ . شـرعي ديني أمري اراده : دا ډول اراده د شـارع په قصـد دلالت کوي اوپه دې هم چې دا کار الله تعالی ته خوښ دی.

لکه په دې وينا د الله تعالی کې: {يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ} (البقرة، ۱۸۵ ايةً).

ژباړه: الله تعالی پر تاسې اسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي. دا ډول اراده د شارع په قصد دلالت کوي او په دی هم چې دا کار الله تعالی ته خوښ دی. له دې پرته نور هغه تعبيرونه چې دې ته ورته وي، لکه، القضاء، الحکم، الکتابةً، الامر، الاذن، الجعل، الکلمات، البعث، الارسال او التحريم، هغه مهال چې دې الفاظو کَوْني ارادې پورې اړه لرله د شارع په مقصود به دلالت نه کوي، مګر کله چې يې په شرعي أمري ارادې پوری اړه لرله د شارع په مقصود او رضا به دلالت کوي.

**دويم د مصالحو او مفاسدو نه د خير او شر يا نفع او ضرر يا دې ته ورته نورو الفاظوسره تعبير.**

دا چې د شريعت موخه مسلمانانو ته د مصالحو زياتول او د مفاسدو مخنيوی دی؛ نو هغه الفاظ چې مصالح او مفاسد پرې معلومېږي د هغه چاله پاره ډېر اړين دي، چې د شريعت

موخې معلوموي، عز بن عبدالسلام رحمه الله وايي: د مصالحو او مفاسدو نه په خير او شر يا نفع او زيان يا په نېکيو او بديو سره تعبير کېږي؛ ځکه په مصالحو کې ټول خير دی ګټه رسوي او نيکي ده او په مفاسدوکې ټول شر دی، ضرري دي، له دې امله په قران کريم کې د نېکيو کارونه په مصالحو کېږي او د بديو په مفاسدو (سلمي،( ب ت) ،ج ۱ص ۳).

**پينځمه طريقه : دصحابـه و پوهه:**

ځکه هغوی په عربي ژبه تر نورو ښه پوهېدل، له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې ډېر نږديوالی درلود او د شـريعت پـه موخو او د قران کـريم په تفسير د رسول الله صلی الله عليه وسلم په سنتو او احوالو له ټولو نه ښه پوهېدل.

شپږمه طريقه: د تبعي موخو له پاره په اصلي موخو باندې استدلال کول:

له اصلي موخو څخه تبعي موخې په لاس راځي او هغه پياوړې کوي، او تبعي موخې اصلي موخې تکميلوي او د هغه ساتنه کوي، په دې شرط، چې تبعي موخې له اصلي موخو سره په تعارض کې واقع نه شي، که نه نو تبعي موخې لغوه دي، لکه، د لمونځ اصلي مقصد د الله تعالی يادول او د هغه ذکر او عبادت دی او تبعي موخې يې دا دي، چې انسان د بې حيايي او ناوړه کارونو څخه منع کوي او دا فرعي مقصد دی چې اصلي مقصد قوي کوي؛ ځکه د لمونځ کوونکي په زړه کې د فحشاوو او منکراتو په پرېښودلو سره له الله عزوجل څخه ويره، هيبت او د هغه عظمت پيداکېږي (البدوي،۲۰۰۰م، ۲۳۰).

**اوومه طريقه: د نزول د لاملونو د پېژندلو له مخې**

دا د شريعت د موخو پېژندلو له پاره يوه مهمه طريقه ده؛ ځکه که موږ ته د ايت د نزول لامل او د حديث د ورود سبب معلوم وي؛ نو موږ به د الله عزوجل او د هغه د رسول

علیه السلام په حکم ښه پوهه شوي یو، د بېلګې په توګه: د شام ځېنو اوسیدونکیو کسانو شراب په دې فکر وڅښل چې ورته روا دي؛ ځکه دوی مومنان دي او الله عزوجل فرمایي: {لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَآمَنُوا ثُمَّ اتَّقَوْا وَأَحْسَنُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}(المائده، **۹۳** ایة).

ژباړه: څوک چې ایمان راوړي او غوره چارې سرته ورسوي هغوی، چې مخکې څه خوړلي څښلي وو په هغو به ونه نیول شي، په دې شرط چې په راتلونکي کې له هغو شیانو څخه ځان وژغوري، چې حرام کړای شوي دي او پر ایمان ټینګ ودریږي او ښه کارونه وکړي، بیا چې له کومو شیانو منع وشي له هغو څخه لاس واخلي او څه چې د خدای امر وي هغه ومني، بیا د خدای له وېرې سره ښه کړنلاره ونیسي، الله تعالی نیک عمله خلک خوښوي.

له همدې امله چې د ایت د نزول په سبب سم نه و پوهه شوي او کله چې د ایت د نزول په سبب پوه شول؛ نو معلومات ورته وشو، چې دا ایت د شرابو د روا والي له پاره نه، بلکې د حراموالي له پاره نازل شوی دی.

**اتمه طریقه : عـربـي ژبـه:**

دعربي ژبې زده کړه او د هغې په معانیو پوهېدل د شریعت د موخو له پاره د مهمو او اړینو کارونوڅخه ده؛ ځکه چې قران کریم او نبوي سنت په عربي ژبه دي، دا چې عربي پراخه او فصیحه ژبه ده او الفاظ یې ډېرې معناوې لري، له همدې امله ځېنو وختونو کې د دې ژبې نه زده کړه یا نه زده کول د تحریف لامل ګرځي، لکه څنګه چې دا کار(تحریف) باطنیه وو، معتزله وو او داسې نورو ډلو کړی دی(البدوي، ۲۰۰۰م، ص ۲۳۱)ړک

دا هغه طريقې دي، چې ماته د شارع د قصد او موخو معلومولو له پاره معلومې شوې دي، د لاندې قاعدې پر بنسټ کولای شو، د شريعت موخې وپېژنو:

(هر هغه څه چې د شريعت په اصلي قواعدو ټينګار کوي، ياېې قوي کوي او يا د موخو اصول ورباندې موقوف وي همدا د شريعت مقاصد(موخې) بلل کيږي)(الشاطبي ،(ب ت)، ج ۲ص ۱۷۸).

**پايله**

د شريعت موخې له هغه غاياتو څخه عبارت دي چې شارع په هر حکم کې ايښې وي.

په احکامو کې د اســـلامي شـــريعت د موخو پېژندل مختلفې لارې چارې لري، چې پر بنسټ يې د شريعت موخو ته رسېدل کېدلای شي، د اصول فقه علماو دغه لارې روښانه کړيدي، چې عبارت دي له: ا ستقراء، د امر او نهي لاملونو پېژندنه، مجرد امر او نهي، د هغه الفاظوپېژندنه، چې د هغې پر بنســټ د شــارع قصــد پېژندل کيږي، د تبعي موخو له پاره په ا صلي موخو ا ستدلال کول، د نزول د ا سبابو پېژندل، همداراز د صرف، نحو او عربي ژبې د اصــولو او قواعدو پېژندل موږ په شــرعي احکامو کې د اســلامي شــريعت موخو ته رسوي، د صحابه کرامو فهم يې بله اساسي لار ده چې د دې تګلارو په پېژندلو سره د شرعي احکامو حقيقي فهم ته پرې رسېږو، په ټوله کې هر هغه څه چې د شريعت په ا صلي قواعدو ټينګار کوي، ياېې قوي کوي او يا د موخو ا صول ورپورې تړلې وي، همدا د شارع موخه بلل کيږي.

د اسلام په مبارک دين کې د جزا او ثواب لپاره مهم معيار د انسان نيت دې، له بل اړخه هغه مهال ديني حکمونه په پوره اخلاص او صــداقت ســره ســرته رســولې شــي چې د اسلامي شريعت د موخو څخه خبروي، او دا کار هغه مهال کېدلې شي چې د شريعت د

موخو پېژندلو لارو چارو څخه خبر وي، له همدې امله د هر مسـلمان لپاره د دغه لارو چارو پېژندل اړین دي.

**وړاندیزونه**

۱. د عدلیې وزارت ته وړاندیز کوم، چې د قوانینو په رامنځ ته کولو کې د اسـلامي شریعت مقاصد په پام کې ونیسي.

۲. اسلامي امارت ته وړاندیز کوم، چې د عدلیې او قضایې چارو مسلکي بستونو باندې داسې اشخاص وګماري، چې د اسلامي شریعت د نصوصو د تفسیر او عربي ژبې ترڅنګ د اسلامي شریعت پر مقاصدو او لارو چارو یې پوهه ولري، ترڅو اسلامي شریعت په سمه توګه تطبیق او په دې لاره کې د مفاسدو ښکار نه شي.

۳. په اوسني وخت کې د معاصر اجتهاد یوه برخه مقاصدي اجتهاد نیولې ده، چې په دې سره نوازلو(نوي پېښېدونکی مسائلو) لپاره ځواب پیدا کړي؛ نو اړینه ده چې د دیني مدارسو، جامعاتو او شرعیاتو پوهنځي په نصاب کې د اسلامي شریعت مقاصد او د لارو چارو ترعنوان لاندې مضمون ځای پر ځای کړي، ترڅو د فتوی او قضاء په ډګر کې ورته لاره رڼه وي او د تېروتنو ښکار نه شي.

**ماخذونه**

قران کریم

ابن الحاجب، عثمان بن عمر بن أبي بكر. مختصر ابن الحاجب مع شرح المعضد.بيروت: دار الكتب العلمية،۱۴۰۳هـ

الآمدي، سيف الدين على بن أبى على بن محمد.الإحكام فى اصول الأحكام.
څېړنه:عبدالرازق عفيفي. بيروت: المكتب الاسلامي،۱۴۰۲ هـ.

ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل.مسند الإمام أحمد بن حنبل. څېړنه: شعيب الأرنؤوط – عادل مرشد، او نور. مؤسسة الرسالة،۱۴۲۱ هـ – ۲۰۰۱ م.

ابن منظور، جمال الدين محمدبن مكرم الأفريقي، لسان العرب، بيروت: دار صادر، (ب ت).

ابوداود، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني.سنن أبي داود. څېړنه: شعيب الأرنووط، دار الرسالة العالمية،۱۴۳۰ هـ – ۲۰۰۹ م.

انيس، ابراهيم. معجم الوسيط. مصر: دارالمعارف،۱۴۲۱.

بخاري، امام الحافظ محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي. الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. بيروت: دارالمعرفة،۱۴۲۲هـ

البدوي، د. يوسف أحمد. مقاصد الشريعة عند ابن تيمية.أردن: دار النفائس،۲۰۰۰م.

بناني، عبدالرحمن بن جادالله. حاشية البناني على شرح المحلي.بيروت:دارالفكر،(ب ت).

زركشي، بدرالدين محمدبن بهادرعبدالله الشافعي.البحرالمحيط فى أصول الفقه.كويت: دارالصفوة للطباعة والنشر،۱۴۱۳هـ.

سلمي، عزالدين عبدالعزيزبن عبدالسلام. قواعدالحكمونه فى مصالح الأنام.بيروت: دارالكتب العلمية،(ب ت).

سيواسي، كمال الدين محمدبن عبدالواحد. التحرير فی أصول الفقه. بيروت: دارالكتب العلمية،۱۴۰۳هـ

الشاطبي، إبراهيم بن موسى. الموافقات. بيروت: دار المعرفة،(ب ت).

عطار، اسماعيل الجوهري.الصحاح. څیړنه: أحمدعبدالغفور.أردن: دار النفائس،۱۴۰۲هـ.

الفاسي، علال. مقاصدالشريعه الاسلامية ومكارمها.المغرب: مطبعة الرسالة.الرباط، ۱۹۷۹م.

الفيومي، أحمدبن محمدبن على. المصباح المنيرفی غريب الشرح الكبير.بيروت: المكتبة العلمية،(ب ت).

قشيري، حافظ مسلم بن الحجاج. صحيح مسلم،بيروت: داراحياء الكتب العلمية، (ب ت)

محلى، جلال الدين محمدبن أحمد. شرح المحلى على جمع الجوامع.بيروت:درالكتب العلمية،۱۴۰۳هـ